AUSTIN Independent School District | Ombuds Office



## د آستین (Austin) خپلواک ښوونځي حوزه

## د محتسب دفتر

بروك ابتدايه ښوونځی
(Brooke Elementary School)

3100 E. 4th St.
Austin, TX 78702

## د محتسب دفتر ته څنګه ورځئ یا اړیکه ورسره نیسئ؟

د محتسب دفتر ته د تګ لپاره باید یوه لیدژمنه یا اپاینټمنټ تنظیم کړئ. د لیدژمني د تنظیم لپاره له لاندې لارو له دفتر سره اړیکه نیولی شئ

- (512) 414-9600
- ombuds@austinisd.org
- www.austinisd.org/ombuds-office

د محرمیت خوندي کولو لپاره، محتسب دفتر په کلکه سپارښتنه کوي چې پر ستونزو یا اندېښنو بحث په شخصي یا حضوري توګه وشي، یا د خوندي او امن ویډیوکنفرانس له لارې او یه هم د ټلیفون له لارې. تاسو هڅول کېږئ چې د حساسو یا محرمو معلوماتو لپاره ایمیل مه کاروئ؛ ځکه چې ایمیل د اړیکې نیولو خوندي بڼه نه ده. د محتسب دفتر خبرې اترې یا محاوره نه ریکارډ کوي او له تاسو هم په مهربانۍ غوښتنه کوي چې د محتسب دفتر (Ombuds Office) سره مو خبرې اترې ریکارډ نه کړئ.

د اپاینټمنټ یا لیدژمني د غوښتلو لپاره سکن کړئ

## څه وخت د محتسب له دفتر سره اړیکه نیولی شئ؟

- کله چې اړتیا لرئ څوک غوږ درته ونیسي
- کله چې تاسو نه پوهېږئ د معلوماتو ترلاسه کولو یا پر یوې پوښتنې، ستونزې یا اندېښنې د بحث لپاره چېرته لاړ شئ
- کله چې پر یوه پالیسۍ یا پروسیجر د پوهېدو لپاره مرستې ته اړتیا لرئ
- کله چې د یوه سیستم یا پروسې پلټلو یا مخته وړلو کې مرستې ته اړتیا لرئ
- کله چې تاسو هڅه کوئ هغه پروګرامونه یا سرچینې په ګوته کړئ چې ستاسو یا ستاسو د زده‌کوونکي لپاره د لاسرسي وړ دي
- کله چې تاسو نه شئ کولی له مناسب ښوونکي، کارکوونکي یا مدیر سره یوه اندېښنه یا ستونزه حل کړئ
- کله چې تاسو فکر کوئ له تاسو یا مو زده‌کوونکي سره نامناسب چلند شوی یا یوه پالیسي نقض شوې او یا په نامناسب ډول پلې شوې



## د محتسب دفتر څه نه کوي؟

- لوری نیول یا د افرادو یا حوزې لپاره وکالت یا یې دفاع
- مشخصو کړنو ته د افرادو یا حوزې هدایت کول
- د حقوقي، طبي یا رواني مشورو وړاندې کول
- د حوزې پر ضد د ادعاوو رسمي خبرتیاوې ترلاسه کول؛ مګر دا چې په ځانګړې توګه قانون لازمي کړې وي
- رسمي څېړنې ګروېږنې کول، د اندېښنې یا شخړې پایلې مشخصول یا اصلاحي کړنې کول
- په داخلي یا بیرونیو رسمي یا حقوقي اجرااتو کې ګډون کول
- د پالیسیو، مقرراتو، یا پروسیجرونو رامنځته کول، پلي کول، تعدیل، یا تطبیق

## د محتسب دفتر څه کوي؟

- زده‌کوونکو، کورنیو او د ټولنې غړو ته محرم، نارسمي، بې طرفه او خپلواکې سرچینې چمتو کوي چې د آستین ISD په اړه پوښتنو، ستونزو او اندېښنو باندې بحث وکړي
- له افرادو سره مرسته کوي چې اندېښنې په ګوته کړي او د حل انتخابونه یې ولټوي
- پالیسۍ او پروسیجرونه تشریح کوي
- داخلي او بیرونیو سرچینو ته ارجاع‌ګانې وړاندې کوي
- افراد روزي چې څنګه سیستمونه او پروسې مخته یوسي
- د افرادو ترمنځ مستقیمې او نامستقیمې اړیکې تسهیلوي؛ په هغه صورت کې چې د دغه کار لپاره صریح جواز وي
- د عادلانه او منصفانه پروسو دفاع کوي
- بهیرونه او سیستماتیکې اندېښنې په ګوته کوي
- پالیسیو، پروسیجرونو، خدمتونو او سیستمونو ته د پرمختګونو سپارښتنه کوي



## محتسب څه ته وایي؟

د محتسب (*ombuds*) کلیمه سویډني کلیمه ده چې استازي ته وایيب. د آستین ISD کې د محتسب دفتر د زده‌کوونکو، کورنیو او ټولنې د غړو لپاره یو خوندي او محرم ځای دی چې خپلې پوښتنې وکړي، اندېښنې شریکې کړي او د آستین ISD اړوند ستونزو د حل لپاره نارسمي مرستې په لټه کې شي. د محتسب دفتر همداراز سیستماتیکې اندېښنې په ګوته کوي او رهبرۍ ته سپارښتنې کوي چې مساواتو ترویج کړي او د آستین ISD فرهنګ او فضا ته وده ورکړي.

## کوم اصول د محتسب دفتر کار ته لارښوونه کوي؟

له [د محتسبینو نړیوالې ټولنې (IOA) د کړنو سټنډرډ او اخلاقي کوډ] سره سم، د محتسب دفتر له دغو بنسټیزو اصولو سره سم عمل کوي

- **محرمیت***
- **نارسمي‌والی**
- **بې پلوي**
- **خپلواکي**

*د محرمیت استثناوې هغه وخت پېښېږي چې د محتسب دفتر د ماشوم یا لوی ځورونه یا غفلت، د [د ښوونې او روزنې اصلاحاتو قانو ۲۷۹۱ کال IX عنوان] احتمالي نقض یا د جدي زیان رسولو قریب الوقوع ګواښ باندې شکمن شي (لکه جدي بدني ټپ یا مړینه).